د اداری فساد پر وړاندی د څارنی او ارزونی
خپلواکه او ګډه کمیټه

کمیته مستقل مشترک نظارت و ارزیابی
مبارزه با فساد اداری

Independent Joint Anti-Corruption
Monitoring & Evaluation Committee

## مطبوعاتي خبرپاڼه

د اداري فساد په وړاندې د څارنې او ارزونې خپلواکه ګډه کمیټه د ښاروالیو د عوایدو راټولولو په بهیر کې د فساد د زیانمننو د ارزونې په تړاو مطبوعاتي خبرپاڼه خپروي.

**کابل- افغانستان، د ۱۳۹۵ کال د چنګاښ ۲۲ مه-** د اداري فساد په وړاندې د څارنې او ارزونې کمیټې نن د ښاروالیو د عوایدو راټولولو په بهیر کې د فساد د زیانمننو د ارزونې په تړاو خپل رپوټ خپور کړ. یاد رپوټ د هیواد د ښاروالیو د عوایدو راټولولو بهیر په حقوقي، تشکیلاتي جوړښت، بشري سرچینو او اداري سیستم کې د فساد زیانمنني ارزوي. د هیواد د قوانینو او د ښاروڼو د اړتیاو ترمنځ نه همغږي او د اساسي قانون له مادو سره د یادو قوانینو ټکر د عوایدو راټولولو په بهیر کې د فساد جدي زیانمنني ګڼل کیږي.

د اساسي قانون ۱۴۱ ماده حکومت مکلفوي ترڅو ښاروالان د ړنو ټاکنو له لارې د دیموکراتیکو معیارونو پر بنسټ وټاکي. په داسې حال کې حکومت په تیرو ۱۴ کلونو کې نه یواځې د ښاروالیو ټاکنې نه دي ترسره کړي، بلکې ښاروالي ګاڼي یې د سیاسي سهمیو (برخو) قرباني کړي دي، ګوندونو او سیمه ایز متنفذینو ته اړوند کسان یې د ښاروال په توګه معرفي کړي، چې په پایله کې ۶۲ سلنه ښاروالان د یادو پستونو د شرایطو په پام کې نیولو څخه پرته په کار ګمارل شوي دي.

د ښاروالانو نا وړتیا او بې کفایتي نه یواځې د ښاروالیو د عوایدو راټولولو بهیر او د ښاري خدمتونو وړاندې کول اغیزمن کړي، بلکې د ښاروالیو د عوایدو راټولولو په بهیر او د بودجې په لګښت کې یې د فساد پراخه زمینه برابره کړې ده. نوموړې ارزونه دا ښیي چې د عوایدو راټولولو په بهیر کې پراخ فساد د ښاروالیو د عوایدو د پام وړ برخې د ضایع کیدو لامل شوی دی.

له بلې خوا د کابل ښاروالی او د ښاري پراختیا وزارت ترمنځ د دندو او مسئولیتونو ټکر( د دندو تداخل)، د اړوندو ادارو او د ښاروالیو ترمنځ د پوره همغږۍ او همکارۍ نه شتون، او د ښاروالیو په چارو کې پراخې سیاسي لاسوهنې ددې لامل شوي چې ښاریان، خصوصي سکتور، ډیری دولتي اداري د قضائیه او اجرائیه بنسټونو او ولایتي شوراګانو په ګډون ښاروالیو ته په مرکز او ولایاتو کې د مالیې له ورکړې څخه ډډه وکړي.

د ښاروالیو د عوایدو راټولولو په بهر کې یادو زیانمننو ته په کتو سره د څارنې او ارزونې خپلواکه ګډه کمیټه په لاندې ډول سپارښتنه کوي: حکومت باید د ښاروالیو په ټولو برخو کې هر اړخیز اصلاحات چې د یوه هراړخیز نوي قانون، د کار د کچې او حجم سره سم تشکیلاتي جوړښت، د نني عصر په اداري مهارتونو او وړتیاو سمبال بشري سرچینو، په مالوماتي تکنالوژۍ سمبال سیستمونو د رامنځته کیدو او په معیاري کارۍ وسایلو دفاترو د تجهیز لامل وګرځي، تر لاس لاندې ونیسي.


د لا ډیرو مالوماتو د ترلاسه کولو لپاره له موږ سره په اړیکه کې شئ:
ټیلفون : ۸۷۱ ۵۱۵ ۷۹۷ ۹۳ +
*ایمیل:* contact@mec.af
*ویب سایټ:* www.mec.af
*فیسبوک:* www.facebook.com/mec.afghanistan